د پوهنې وزارت

اسلامي ښوونه او روزنه

شپږم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې
هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي
پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ايماق، هم پشه يان
دا هېواد به تل ځلېږي
لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به
لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مو دی رهبر
وايو الله اکبر وايو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې وزارت

اسلامي ښوونه او روزنه

شپږم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: اسلامي ښوونه او روزنه

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د اسلامي ښوونې او روزنې د برخې د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنت غړي

ټولګی: شپږم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکېږي.

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته يې ژوند رابښلی، او د لوست او ليک له نعمت څخه يې برخمن کړي يو، او د الله تعالی پر وروستي پيغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پيغام ورته (لوستل) و، درود وايو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمريز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونيز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدينو شوراګانې د هېواد د پوهنيز نظام شپږګوني بنسټيز عناصر بلل کيږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختيا او پرمختيا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونيز نظام کې د ودې او پراختيا په لور بنسټيزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونيز نصاب اصلاح او پراختيا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړيتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځيو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونيزو تأسيساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کيفيت او توزيع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور يو، چې د باکيفيته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنيو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونيز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مديرانو څخه په درناوي هيله کوم، چې د هېواد بچيانو ته دې د درسي کتابونو په تدريس، او د محتوا په لېږدولو کې، هيڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د يوه فعال او په ديني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زيار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤوليت په درک سره، په دې نيت لوست پيل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د يوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځيرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدريس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونيز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په ليکلو او چمتو کولو کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له درباره څخه دوی ته په دې سپېڅلي او انسان جوړوونکې هڅې کې بريا غواړم.

د معياري او پرمختللي ښوونيز نظام او د داسې ودان افغانستان په هيله چې وګړي يې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزير

دکتور محمد ميرويس بلخي

فهرست

د لوست شمېره	لوست	مخ
لومړی لوست	د نبوي احاديثو مقام	۱
دویم لوست	د احاديثو ډولونه	۳
دریم لوست	شفاعت	۵
څلورم لوست	د اصحابو مقام	۷
پنځم لوست	قسم خوړل	۹
شپږم لوست	د قسم ډولونه	۱۱
اووم لوست	شرك	۱۳
اتم لوست	د شرك ډولونه	۱۵
نهم لوست	ريا	۱۷
لسم لوست	شرعي حكمونه (۱)	۱۹
یوولسم لوست	شرعي حكمونه (۲)	۲۱
دولسم لوست	د غسل فرضونه	۲۳
دیارلسم لوست	د غسل موجبات	۲۵
څوارلسم لوست	روژه	۲۷
پنځلسم لوست	د روژې فرضيت	۲۹
شپاړسم لوست	د روژې ډولونه	۳۱
اووه لسم لوست	د روژې فاسدوونكي	۳۳
اته لسم لوست	تراويح	۳۵

د لوست شمېره	لوست	مخ
نولسم لوست	اعتکاف	۳۷
شلم لوست	د فطر صدقه	۳۹
یوویشتم لوست	زکات	۴۱
دوه ویشتم لوست	د زکات نصاب	۴۳
دري ویشتم لوست	د غلو، دانو او مېوو زکات	۴۷
څلور ویشتم لوست	د څارویو زکات	۴۹
پنځه ویشتم لوست	د زکات مستحقین	۵۱
شپږ ویشتم لوست	حج	۵۳
اوه ویشتم لوست	د حج مسایل	۵۵
اته ویشتم لوست	حیاء	۵۸
نهه ویشتم لوست	تواضع	۶۰
دېرشم لوست	صله رحمي	۶۲
یو دېرشم لوست	ربنتیا ویل	۶۴
دوه دېرشم- لوست	د مور او پلار اطاعت	۶۶
دري دېرشم لوست	اسراف	۶۸
څلور دېرشم لوست	حجاب	۷۰
پنځه دېرشم لوست	د صدقي فضایل	۷۲

د نبوي احاديثو مقام

د رسول الله ﷺ وینا، عمل او تقریر ته حدیث ویل کیږي.

د پیغمبر ﷺ وینا وحې ده.

د پیغمبر ﷺ پیروي د الله تعالی پیروي ده، الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ﴾ [النساء: ٥٩] ژباړه: ای مؤمنانو! د الله او د رسول اطاعت وکړئ.

د کومو کارونو په کولو چې رسول الله ﷺ لارښوونه کړې هغه ترسره کوو او له کومو کارونو څخه یې چې منع کړې، له هغو څخه ډډه کوو.

الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي: ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾ [الحشر: ٧]

ژباړه: په څه چې پیغمبر ﷺ تاسې ته امر کړی، نو هغه ومنئ او له څه شي څخه یې چې منعه کړي يئ، له هغه منعه شئ.

د قرآن کریم ډېر حکمونه د رسول الله ﷺ په احادیثو کې بیان شوي دي.

فعالیتونه

۱. زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د حضرت محمدﷺ ځینې احادیث د بېلګې په ډول بیان کړي.

۲. زده کوونکي دې په خپل ژوند کې له پیغمبرﷺ څخه د پیروی څو بیلګې ووایي.

۳. د ښوونکي په مرسته د نبوي احادیثو د ځینو کتابونو نومونه واخلي.

پوښتنې

۱. حدیث څه ته ویل کیږي؟

۲. الله تعالی موږ ته د رسول اللهﷺ د احادیثو په هکله څه فرمایلي دي؟

۳. آیا د رسول اللهﷺ ویناوو او کړنو دواړو ته حدیث ویل کیږي؟

۴. دا آیت ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ﴾ وژباړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنې دواړه آیتونه حفظ او ژباړه دې زده کړي.

د احادیثو ډولونه

د پیغمبرﷺ حدیثونه په درې ډوله دي:

۱- قولي حدیث: د پیغمبرﷺ ویناوو ته قولي حدیث ویل کیږي، لکه: رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ» رواه البخاری.

ژباړه: مسلمان هغه څوک دی، چې مسلمانان یې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امن وي.

۲- فعلي حدیث: د رسول اللهﷺ کړنو ته فعلي حدیث ویل کیږي، لکه: «صَلَّى رَسُولُ اللهِﷺ، حِينَ سَافَرَ رَكْعَتَيْنِ ، وَحِينَ أَقَامَ أَرْبَعًا»

ژباړه: رسول اللهﷺ په سفر کې دوه رکعته لمونځ کاوه کله چې به مقیم وو، بیا به یې څلور رکعته لمونځ کاوه.

۳- تقریري حدیث: یو صحابي چې کوم کار د رسول اللهﷺ په وړاندې کړی وي او رسول اللهﷺ هغه کار بد نه وي ګڼلی، دې ته تقریري حدیث ویل کیږي، لکه: په نبوي مسجد کې د حبشیانو لوبې چې د نیزو په وهلو سره یې کولې.

فعالیتونه

زده کوونکي دې په لاندې حدیثونو کې د وینا، عمل او تقریر حدیثونه په ګوته کړي:

۱. یو سړي له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل: کوم مسلمان غوره دی؟ پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: هغه څوک غوره دی چې مسلمانان یې د ژبې او لاس له ضرر نه په امان وي. رواه مسلم .

۲. رسول الله ﷺ د لوی اختر په ورځ لومړی لمونځ وکړ، بیا یې خطبه وویله، ورپسې یې څاروی حلال کړ. متفق علیه .

پوښتنې

۱. د پیغمبر ﷺ حدیثونه په څو ډوله دي؟

۲. قولي حدیث تعریف کړئ.

۳. فعلي حدیث تعریف کړئ.

۴. تقریري حدیث تعریف کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنی لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي.

شفاعت

شفاعت سپارښتنې ته وايي.

الله ﷻ د قيامت په ورځ غوره خلکو ته د شفاعت اجازه ورکوي.

د الله ﷻ له اجازې پرته هېڅوک شفاعت نشي کولای.

نېک خلک به د مسلمانو گناهگارانو شفاعت کوي.

شفاعت د گناه د بښلو او جنت ته د تللو لپاره کېږي.

هر پيغمبر به د خپل امت شفاعت کوي.

رسول الله ﷺ به لومړی شفاعت کوي.

د دې امت غوره خلک د شفاعت حق لري.

د قرآن کريم قاري به د خپلې کورنۍ د لسو غړو شفاعت کوي.

شهيد د ۷۰ تنو شفاعت کوي.

نېک اعمال د مسلمان شفاعت کوي.

قرآن کريم د خپل لوستونکي شفاعت کوي.

فعالیتونه

۱- زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د شفاعت په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

۲- د قرآن کریم قاري ته ولې د شفاعت حق ورکول کیږي؟ زده کوونکي دې په دې هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړي.

۳- په دنیا کې د نیکو خلکو په هکله سپارښتنه څنګه ده؟ په دې هکله د ښوونکي معلومات له ځان سره شریک کړئ.

پوښتنې

۱- شفاعت څه ته ویل کیږي؟

۲- پیغمبران به د چا شفاعت کوي؟

۳- شهید د څو کسانو شفاعت کولای شي؟

۴- قرآن کریم د چا شفاعت کوي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ له غړو سره د شفاعت په اړه خبرې وکړي.

د اصحابو مقام

اصحاب د صحابي جمع ده.

صحابي: هغه چا ته ویل کیږي، چې پیغمبر ﷺ یې لیدلی وي، په هغه یې ایمان راوړی وي او د ایمان په حالت کې وفات شوی وي.

اصحابو کرامو رضي الله عنهم له رسول الله ﷺ سره د دین په خپرولو کې ډېر زیارونه ګاللي او پدې لار کې یې هر ډول مالي او ځاني قربانۍ ورکړي دي.

اصحاب رضی الله عنهم د اسلامي امت تر ټولو غوره خلک دي.

د رسول الله ﷺ اصحاب د هدایت مشالونه دي، د هغوی په پیروۍ کې مسلمانان سمه لار مومي.

رسول الله ﷺ موږ ته له اصحابو سره د مینې او اخلاص لارښوونه کړې ده.

موږ ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته درناوی لرو.

اصحابو ته بد ویل او د هغوی توهین کول لویه ګناه ده.

مشهور صحابه، لکه: حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت زبیر، بي بي خدیجة الکبری، بي بي عایشه او بي بي فاطمة الزهرا رضی الله تعالی عنهم او داسې نور دي.

فعالیتونه

۱- له رسول الله ﷺ څخه د اسلام دین چا زده کړ؟ او بیا یې نورې نړۍ ته څنګه ورساوه ؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

۲- هغه کوم اصحاب دي چې په دنیا کې پرې د جنت زیری شوی؟ نومونه یې واخلئ.

۳- هغه کوم اصحاب دي چې تر ټولو یې لومړی اسلام راوړی دی؟ په دې هکله د ښوونکي معلومات له ځان سره شریک کړئ.

پوښتنې

۱- اصحاب چا ته ویل کیږي؟

۲- رسول الله ﷺ خپل امت ته د صحابه وو په هکله د څه شي سپارښتنه کړې ده؟

۳- د څو مشهورو اصحابو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي.

قسم خوړل

مسلمان باید له بې ځایه قسم خوړلو څخه ډډه وکړي.

بې ځایه قسم خوړل د منافق نښه ده.

که چیرې مسلمان قسم خوړلو ته اړ شي، نو د الله تعالی په نومونو او یا صفتونو دې قسم وکړي، په دې هکله رسول الله ﷺ فرمايي: «مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَصْمُتْ» رواه البخاري

ژباړه: که څوک قسم کوي، نو په الله تعالی دې قسم وکړي او یا دې پټه خوله پاتې شي.

د قسم له الفاظو څخه ځینې یې دا دي:

١- وَاللهِ. ٢- بِاللهِ. ٣- تَاللهِ. ۴- بِعِزَّةِ اللهِ. ۵- بِكَلامِ اللهِ همدارنګه په قرآن کریم هم قسم خوړل روا دي.

د اولاد په سر، په زیارت، آسمان، مسجد او داسې نورو شیانو قسم خوړل، لویه ګناه ده او پیغمبر ﷺ موږ ترې منع کړي یو.

فعالیتونه

۱- د ښوونکي په مرسته ځینې هغه حالتونه بیان کړئ چې خلک پکې بې ځایه قسم کوي.

۲- آیا خپل ملګري سره په نه خبرو کولو قسم کول روا دي ؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

۳- د لوست حدیث له یادو ووایئ.

پوښتني

۱- بې ځایه قسم خوړل د څه شي نښه ده؟

۲- که مسلمان قسم خوړلو ته اړ شي، نو په څه شي به قسم خوري؟

۳- رسول الله ﷺ د قسم خوړلو په اړه څه فرمایلي دي؟

۴- آیا د الله تعالی له نومونو او صفتونو پرته په نورو شیانو قسم خوړل ګناه ده؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنی لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي.

د قسم ډولونه

قسم په درې ډوله دی:

۱- **لغوه قسم**: بې له قصده قسم خوړلو ته لغوه قسم ویل کېږي، لکه ځینې خلک چې د عادت له مخې په خبرو کې وایي: والله داسې وو او قسم کولو ته یې اراده نه وي.

په لغوه قسم کې ګناه او کفاره نه لازمېږي.

۲- **منعقده قسم**: په راتلونکې زمانه کې د یو کار په کولو او یا نه کولو باندې قسم خوړلو ته منعقده قسم ویل کېږي.

که څوک وروسته په خپل قسم کې پاتې نه شو، بلکې د خپل قسم خلاف کار یې وکړ، نو په ده باندې کفاره لازمېږي.

۳- **غموس قسم**: قصداً په دروغو د تېر وخت د یو کار په کېدلو او یا نه کېدلو قسم خوړلو ته غموس قسم ویل کېږي.

لکه: څوک ښه خبر وي چې دا کار نه دی شوی، خو بیا هم قصداً په دروغو قسم خوري چې دا کار شوی دی.

غموس قسم انسان دوزخ ته داخلوي.

غموس قسم لویه ګناه ده، کفاره نه لري، بلکې انسان به الله تعالی ته تل ژړا او زاري کوي، څو یې دا ګناه ورته وبښي.

فعالیتونه

۱- په نوبت سره د لغوه، منعقده او غموس قسمونو بېلګې بیان کړئ.

۲- د چا پر حق سترګې پټول او قسم پرې خوړل. دا کوم ډول قسم دی؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱- قسم په څو ډوله دی؟

۲- لغوه قسم کوم دی؟

۳- منعقده قسم بیان کړئ.

۴- غموس قسم تعریف کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قسم ډولونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

شرک

شرک له ټولو ګناهونو څخه لویه ګناه ده.

الله تعالی مشرک ته بښنه نه کوي، الله تعالی پدې اړه فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ [النساء : ٤٨]

ژباړه: الله ﷻ یوازې شرك نه بښي، له شرک پرته نورې ګناوې چې چا ته یې خوښه شي، وربښي یې.

موږ باید له شرکي اعمالو څخه ډډه وکړو، لکه:

١- له الله تعالی پرته د بل چا عبادت کول،

٢- له الله تعالی سره په ذات او صفاتو کې څوک شریک ګڼل،

٣- ساحر او کوډګرو ته تلل او باور پرې کول،

۴- له الله تعالی پرته بل چا ته بې له اسبابو د غیبو علم ثابتول،

۵- په نېکو عملونو کې ریا کول،

٦- له اسبابو پرته له مخلوق څخه مرسته غوښتل.

که چېرې مشرک له شرک څخه توبه وکړي، الله تعالی یې توبه قبلوي.

فعالیتونه

بحث پرې وکړئ:

۱-کائنات چا پیدا کړي؟ چا لمر، ځمکه او ستوري په هوا کې درولي؟ بارانونه څوک وروي؟ د عبادت لایق څوک دی؟.

۲- له اسبابو پرته له مخلوق څخه د مرستې غوښتلو څو مثالونه ووایئ.

پوښتنې

۱- آیا شرک تر ټولو لویه ګناه ده؟

۲- څوک چې مشرک مړ شي، آیا الله تعالی هغه ته ښښنه کوي؟

۳- کوم عملونه شرک بلل کیږي؟

۴- آیا په ژوند کې د مشرک توبه قبلیږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنی لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي.

د شرک ډولونه

شرک په دوه ډوله دی.

۱- اکبر (لوی) شرک.

۲- اصغر (کوچنی) شرک.

له الله تعالی سره په عبادت کې شریک پیدا کولو ته اکبر (لوی) شرک ویل کیږي.

اکبر شرک انسان له اسلامه باسي او د تل لپاره به په دوزخ کې وي.

اصغر (کوچنی) شرک هغه گناهونه دي چې په احادیثو کې د شرک نسبت ورته شوی وي، تر څو خلک ترې ځان وساتي.

اصغر شرک لویه گناه ده، خو انسان له اسلامه نه باسي.

اصغر شرک، لکه: له الله تعالی پرته پر بل شي قسم خوړل او ریا کول.

فعالیتونه

۱- د ښوونکي په مرسته په نوبت سره د اکبر او اصغر شرک څو مثالونه بیان کړئ.

۲- ریا ولې اصغر شرک بلل کیږي؟ په دې هکله د ښوونکي معلومات له ځان شریک کړئ.

پوښتنې

۱. شرک په څو ډوله دی؟

۲. اکبر (لوی) شرک کوم دی؟

۳. اصغر (کوچنی) شرک کوم دی؟

۴. آیا لوی شرک مسلمان له اسلام څخه باسي؟

۵. آیا ریا ته شرک ویل کېدای شي؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې پورتنی لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ريا

ځان ښودنې ته ريا وايي، موږ ښه کارونه د الله ﷻ لپاره کوو.

په ريا کارۍ کې ثواب نشته، ځکه رياکوونکی د الله ﷻ رضا نه غواړي.

اخلاص د نيک عمل د قبليدو شرط دی، رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ» رواه البخاري

ژباړه: د عملونو ثواب په نيت پورې اړه لري.

ريا کول لويه ګناه ده، رسول الله ﷺ فرمايي: ځان ښودنه پټ شرک دی.

د خلکو پر وړاندې د فرض عملونو تر سره کول ريا نه ګڼل کيږي.

موږ له ريا کارۍ نه ځان ژغورو.

فعالیتونه

۱. د ښوونکي په مرسته د ریا په اړه یوله بل سره خبرې وکړئ.

۲. که څوک د دې لپاره صدقه ورکوي چې نوم یې په خلکو کې خپور شي، آیا د ده صدقه قبلیږي؟ په دې هکله په خپلو کې خبرې وکړئ.

۳. د ریا ضد څه شی دی؟ په گوته یې کړئ:

(رښتیا، اخلاص، قناعت)

پوښتنې

۱. ریا څه ته ویل کیږي؟

۲. آیا ریا لویه گناه ده؟

۳. رسول الله ﷺ د ریا په هکله څه فرمایلي دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ د غړو په مرسته د ریا په اړه خبرې وکړي.

شرعي حکمونه (۱)

د اسلام دین موږ ته د ژوند په ټولو چارو کې لارښوونه کړې ده، هغه څه چې زموږ په ګټه دي، موږ ته یې د هغو د سرته رسولو امر کړی او یا یې روا کړي دي او هغه څه چې زموږ په زیان دي، له هغو څخه یې منع کړي یو.

د شریعت حکمونه په دوه ډوله دي:

۱. **اوامر**:

اوامر: هغو حکمونو ته وایي چې الله تعالی یې په سرته رسولو امر کړی دی.

۲. **نواهي**:

نواهي: هغو حکمونو ته وایي چې شریعت ترې منع کړې ده، کول یې ګناه او الله تعالی پرې ناراضه کیږي.

اوامر د اهمیت له مخې په لاندې برخو ویشل کیږي:

فرض: هغه حکم ته ویل کیږي چې مونږ یې په سرته رسولو مکلف یو، کول یې ثواب، پرېښودل یې ګناه ده او انکار ترې کفر دی، لکه: پنځه وخته فرض لمونځونه او فرضي روژه.

واجب: د فرضو په څیر، کول یې حتمي او ثواب لري، پرېښودل یې ګناه ده او منکر یې فاسق بلل کیږي، لکه: د اختر لمونځ، د وترو لمونځ، د قنوت دعا ویل.

سنت: هغه حکم ته ویل کیږي چې کول یې ثواب او پرېښودل یې ملامتي ده، لکه: د ماسپښین شپږ رکعته سنت لمونځ، څلور له فرضو مخکې او دوه وروسته.

مستحب: هغه عمل ته ویل کیږي چې کول یې ثواب لري او پرېښودل یې نه ګناه او نه ملامتي لري.

مباح: هغه عمل ته ویل کیږي چې په کولو او پرېښودلو کې یې ګناه نه وي، لکه: ښکار کول.

فعالیتونه

۱. د ښوونکي په مرسته د فرضو، سنتو، مستحبو او مباحو څو نور مثالونه ووایئ.

۲. د لاندنیو چارو حکم ووایئ:

(اسراف، حج، غیبت، زکات، غلا، سلام اچول)

پوښتنې

۱. شرعي حکمونه په څو ډوله دي؟

۲. فرض کوم حکم ته ویل کیږي؟

۳. سنت او مستحب کوم حکمونه دي؟

۴. مباح څه ته ویل کیږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د یاد لوست متن په خپلو کتابچو کې ولیکي.

شرعي حكمونه (۲)

د اسلام دين موږ له هغو كارونو څخه منع كړي يو چې كول يې زموږ په زيان دي، علماوو ناروا كارونه په دوو برخو ويشلي دي:

۱- **حرام**: هغه عمل ته ويل كيږي چې پرېښودل يې فرض وي، لكه: قتل، غلا، غيبت او داسې نور.

۲- **مكروه**: هغه عمل ته وايي چې په شريعت كې بد ګڼل شوي وي.

مكروه په دوه ډوله دي:

الف: تحريمي مكروه: هغه عمل ته ويل كيږي چې له سرته رسولو څخه يې شريعت منع كړې وي، كول يې ګناه لري، خو له حرام څخه را ښكته وي، لكه: د اودس ماتي په وخت كې قبلې ته مخ كول او په لمانځه كې وينښتان سمول.

ب: تنزيهي مكروه: هغه عمل ته ويل كيږي چې پرېښودل يې غوره وي، په كولو كې يې ګناه نه وي، لكه: دويم ركعت له لومړي ركعت څخه اوږدول.

فعالیتونه

۱. زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، یوه ډله دې د حرامو ښځه مثالونه ووایي، دویمه ډله دې د مکروهو ښځه مثالونه ووایي.

۲. زده کوونکي دې ووایي چې حرام له مکروه څخه څه توپیر لري؟ په دې هکله دې خبرې وکړي.

پوښتنې

۱. حرام څه ته ویل کېږي؟ یو مثال یې ووایئ.

۲. آیا تحریمي مکروه پېژنئ؟ دوه مثالونه یې ووایئ.

۳. تنزیهي مکروه څه ته ویل کېږي؟ څو مثالونه یې په لمانځه کې ذکر کړئ.

۴. د حرامو او فرضو ترمنځ څه توپیر دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست متن په خپلو کتابچو کې ولیکي.

د غسل فرضونه

د ټول بدن پرمینځلو ته غسل ویل کیږي.

د غسل فرضونه:

په غسل کې درې فرضونه دي:

۱. **مضمضه**: په خوله کې د اوبو اچولو او غړغړه کولو ته مضمضه ویل کیږي.

۲. **استنشاق**: په پوزه کې د اوبو اچولو او بیرته لرې کولو ته یې استنشاق ویل کیږي.

۳. **د ټول بدن پرېمینځل**: پداسې توګه چې په سر اوبه اچوي او ټول بدن وینځي، چې په ټولو اندامونو اوبه تیرې شي او د بدن هیڅ برخه وچه پاتې نشي.

یادونه: د ښځو لپاره د وېښتانو بیخ پرېمینځل کفایت کوي، د کوڅیو پرانیستل ضرور نه دي.

فعالیتونه

۱. د ښوونکي په مرسته د غسل د ګټو په هکله بحث وکړئ.

۲. د غسل د آدابو په هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. غسل تعریف کړئ.

۲. په غسل کې څو فرضونه دي؟

۳. مضمضه او استنشاق څه ته وايي؟

۴. آیا په غسل کې د ښځو لپاره د کوڅیو پرانیستل فرض دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

د غسل موجبات

هغه څه چې له کبله یې پر مسلمان غسل لازمیږي، د غسل موجبات بلل کیږي.

غسل په دوه ډوله دی:

الف: فرض غسل . ب: سنت غسل.

الف: فرض غسل: په هر عاقل او بالغ مسلمان باندې په لاندې حالتونو کې غسل فرض کیږي:

- **احتلام:** یعنې په خوب کې غسل لازمیدل،
- **جماع:** د ښځې او خاوند کور والی او مباشرت،
- **حیض:** د ښځې میاشتنی ناروغي،
- **نفاس:** د ماشوم له زیږیدنې وروسته د مور ناروغي،

ب: سنت غسل: په لاندې وختونو کې غسل سنت دی:

۱. د جمعې د لمانځه لپاره غسل کول،

۲. د اخترونو د لمنځونو لپاره غسل کول،

۳. له احرام تړلو څخه مخکې غسل کول.

فعالیتونه

بحث پرې وکړئ:

۱- د اسلام دین پاکۍ ته څومره ارزښت ورکوي؟

۲- که فرض غسل ونه شي، آیا لمونځ کېږي؟

۳- د غسل د ګټو په هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. غسل په څو ډوله دی؟ بیان یې کړئ.

۲. په کومو حالتونو کې غسل فرض کېږي؟

۳. په کومو حالتونو کې غسل سنت دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

روژه

د روژې تعریف: له سپیده داغ (صبح صادق) څخه تر لمر پرېوتو پورې له خوراک، څښاک او جماع څخه د عبادت په نیت ځان ساتلو ته روژه وايي.

روژه د اسلام له پنځو بناوو څخه ده.

رسول الله ﷺ د روژې په هکله داسې فرمایلي دي:

(د روژه نیوونکي لپاره دوې خوښۍ دي: یوه خوښي یې د روژه ماتي او بله یې د قیامت په ورځ له الله تعالی سره د ملاقات پر وخت) رواه مسلم .

د روژې ګټې:

- د روژې په نیولو سره د مسلمان ایمان غښتلی کېږي.
- روژه د مسلمان سپر دی، له دوزخ څخه یې ژغوري.
- روژه نیول د انسان روغتیا ته ډېرې ګټې رسوي.
- د روژې په نیولو سره د مسلمان په زړه کې ترحم پیدا کېږي.
- روژه انسان ته د صبر او امانتدارۍ درس ورکوي.

فعالیتونه

۱. د روژې د پیل او پای د وختونو په هکله بحث وکړئ.

۲. کوم شیان د روژې ماتوونکي دي؟ په دې اړه په خپلو منځو کې مباحثه وکړئ.

پوښتني

۱. روژه څه ته ویل کیږي ؟

۲. روژه نیول څه گټې لري ؟ بیان یې کړئ.

۳. روژه نیول روغتیا ته څه گټه رسوي ؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د روژې د گټو په هکله یوه مقاله ولیکي.

د روژې فرضیت

د رمضان میاشتې روژه نیول پر هر عاقل، بالغ، مسلمان باندې فرض دي.

د فرضیت دلیل:

الله تعالی فرمایلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.البقره (۱۸۳) آیت.

ژباړه: ای مؤمنانو! پر تاسو روژه فرض کړای شوې ده، لکه چې له تاسو څخه په مخکینیو خلکو فرض وه، د دې لپاره چې پرهیز گار شئ.

د رمضان د میاشتې فضیلتونه:

- په رمضان میاشت کې قرآن کریم نازل شوی دی.

- د رمضان د میاشتې په هکله رسول الله ﷺ داسې فرمایلي دي:

د رمضان میاشتې په راتلو سره د جنت دروازې پرانیستل کېږي. د دوزخ دروازې بندېږي او لوی شیطانان تړل کیږي.

دا میاشت د صبر میاشت ده چې بدل یې جنت دی.

دا میاشت د برکت میاشت ده، د مسلمان رزق پکې زیاتېږي، لومړی لسیزه یې د رحمت، دویمه لسیزه یې د بښنې او وروستی لسیزه یې له دوزخ څخه د خلاصون وسیله ده.

فعالیتونه

۱- روژه ولې د صبر میاشت ده؟ بحث پرې وکړئ.

۲- د روژې لومړۍ لسیزه د رحمت، دویمه یې د بښنې او دریمه یې له دوزخ څخه د خلاصون وسیله ده، دا عبارت شرحه کړئ.

پوښتنې

۱. روژه پر چا فرض ده؟

۲. د روژې د فرضیت دلیل ووایئ.

۳. د لوست د آیت ژباړه ولیکئ؟

۴. د روژې د میاشتې فضیلتونه ووایئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د رمضان میاشتې د فضایلو په هکله مقاله ولیکي.

د روژې ډولونه

روژه د حکم له پلوه په لاندې ډولونو ویشل شوې ده:

۱- فرض ۲ - واجب ۳ - سنت ۴- ناروا.

۱- فرض روژه، لکه: د رمضان د میاشتې او د نذر روژې نیول.

۲- واجب روژه، لکه: د نفلي روژې له فاسدېدو وروسته قضایي راوړل.

۳- سنت روژه، په لاندې وختونو کې روژه نیول سنت دي:

- د محرم د میاشتې د نهمې او لسمې ورځې روژه نیول،
- د شوال د میاشتې شپږ ورځې روژه نیول،
- د عرفې د ورځې روژه نیول.،
- په هره اوونۍ کې د دوشنبې او پنجشنبې د ورځو روژه نیول،
- د هرې قمري میاشتې د دیارلسمې، څوارلسمې او پنځلسمې ورځې روژه نیول.

۴ - ناروا روژه، لکه د شک د ورځې روژه نیول چې د رمضان میاشت ثابته شوې نه وي او خلک یې د فرض روژې په نیت ونیسي، داسې روژه نیول ناروا او نیوونکي یې ګناه ګار دي.

- همداراز د دواړو اخترونو په ورځو کې روژه نیول ناروا دي.

فعالیتونه

۱. د ښوونکي په مرسته هغه ورځې چې روژه نیول پکې ثواب لري، په ګوته کړئ.

۲. د هغو ورځو په هکله مباحثه وکړئ چې روژه نیول پکې ناروا دي.

پوښتنې

۱. روژه د حکم له پلوه په څو ډوله ده؟

۲. د فرض روژې یو مثال ووایاست.

۳. په کومو ورځو کې روژه نیول سنت دي؟

۴. په کومو وختونو کې روژه نیول ناروا دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ د غړو په مرسته د شوال میاشتې او عرفې ورځې د روژې نیولو فضایل په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې په ټولګي کې ولولي.

د روژې فاسدوونکي

هر هغه څه چې روژه وربانديې ماتېږي، د روژې فاسدوونکي ورته ویل کېږي.

د روژې فاسدوونکي په لاندې ډول دي:

۱. **په قصد سره خوراک او څښاک کول**: په ورځ کې په قصد سره خوراک او څښاک کولو سره روژه ماتېږي، خو که څوک په هیره سره څه وخوري یا وڅښي، روژه يې نه فاسدېږي.

۲. **په قصد سره قی کول**: که څوک روژه نیوونکی په ډکه خوله قصداً قی وکړي، روژه يې فاسدېږي، خو که د ناروغۍ له کبله يې قی وکړ، روژه يې نه فاسدېږي.

۳. **حیض**: د ښځې د میاشتنۍ ناروغۍ په را تللو سره روژه فاسدېږي، ښځو ته جواز نلري چې د حیض پر مهال روژه ونیسي.

۴. **نفاس**: که ښځه د روژې په حالت کې ماشوم وزېږوي، روژه يې فاسدېږي او تر ټاکلې مودې پورې روژه نیول هم ورته روا نه دي.

۵. **جماع (کور والی)**: په روژه کې د ورځې د ښځې او خاوند په کوروالي سره روژه فاسدېږي.

فعالیتونه

۱. د روژې د فاسدوونکو په هکله په خپلو منځو کې مباحثه وکړئ.

۲. د ناروغۍ په وخت په پیچکاري کولو روژه نه فاسدیږي. په دې هکله په خپلو منځو کې بحث وکړئ.

پوښتنې

۱. د روژې فاسدوونکي څه ته وايي؟

۲. آیا د هیرې په حالت کې د خوراک له امله روژه ماتیږي؟

۳. قۍ په کوم حالت کې روژه ماتوي؟

۴. آیا ښځې ته د حیض او یا نفاس په حالت کې روژه نیول روا دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

تراویح

د روژې په میاشت کې شل رکعته تراویح کول مؤکد سنت دي.

د ماخوستن د فرض لمانځه وروسته دوه دوه رکعته تراویح اداء کیږي.

په جماعت سره د تراویح لمونځ کول ثواب لري.

رسول الله ﷺ او صحابه وو رضي الله عنهم تراویح په جماعت سره اداء کړې دي.

حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په وخت کې مسلمانانو ته د شل رکعته تراویحو کولو لارښوونه وکړه.

په تراویحو کې امام په جهر سره قرأت لولي.

په تراویحو کې د ټول قرآن کریم لوستل مستحب دي.

په یوازې ډول (ځانته) تروایح کول هم روا دي.

فعالیتونه

۱. آیا کله مو د تراویح په لمانځه کې ګډون کړئ؟ له نورو لمونځونو سره څه توپیر لري؟

۲. امام باید په تراویحو کې قرآن کریم څنګه ولولي؟ په دې هکله د ښوونکي معلومات له ځان سره شریک کړئ.

پوښتنې

۱. تراویح په کوم وخت کې اداء کېږي؟

۲. تراویح څنګه اداء کېږي؟

۳. د تراویحو لمونځ څه حکم لري؟

۴. حضرت عمر رضي الله عنه د څو رکعتونو تراویحو لارښوونه کړې ده؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

اعتکاف

اعتکاف په لغت کې په یو ځای کې پاتې کېدو ته وايي.
په اصطلاح کې په جومات کې د عبادت په نیت وخت تیرولو ته اعتکاف ویل کیږي.
د رمضان میاشتې په وروستیو لسو ورځو کې اعتکاف کول کفایي سنت دي. رسول الله ﷺ به هر کال د روژې میاشتې په وروستیو لسو ورځو کې اعتکاف کاوه.

د اعتکاف شرطونه:

۱. اسلام: اعتکاف کوونکی باید مسلمان وي.
۲. عقل: اعتکاف کوونکی باید عاقل وي، د لیوني اعتکاف نه صحیح کیږي.
۳. مسجد: اعتکاف باید په مسجد کې ترسره شي، خو ښځې کولای شي چې په خپل کور کې په ځانګړي ځای کې اعتکاف وکړي.
۴. د اعتکاف نیت کول.
۵. له حیض او نفاس څخه پاکوالی.

د اعتکاف په هکله ځیني مسایل:

- اعتکاف کوونکی کولای شي چې په لاندې حالتونو کې له جومات څخه ووځي:

۱. د قضای حاجت لپاره.

۲. د جمعې د لمانځه د ادا کولو لپاره.

۳. د ضرورت لپاره، لکه: د خوراک، څښاک او درملنې لپاره چې بله چاره یې نه وي.

فعالیتونه

۱. په نوبت سره د اعتکاف تعریف او شرطونه په یادو ووایئ.

۲. په اعتکاف کې څه کول په کار دي؟ په دې هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. اعتکاف څه ته وایي؟

۲. اعتکاف څه حکم لري؟

۳. رسول الله ﷺ په کومو ورځو کې اعتکاف کاوه؟

۴. د اعتکاف د صحت لپاره کوم شیان شرط دي؟

۵. په کوم وخت کې اعتکاف کوونکی له مسجد څخه وتلای شي؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د اعتکاف شرطونه په خپل تعبیر په کتابچو کې ولیکي.

د فطر صدقه

د کوچني اختر د لومړۍ ورځې سهار له را ختلو سره سم د فطر صدقه واجبیږي، خو له دې نه مخکې د روژې په را رسېدلو سره یې هم ادا کول روا دي.

رسول الله ﷺ د فطر د صدقې (سرسایې) په هکله فرمایلي دي: د فطر صدقه د روژه نیونکي لپاره له ګناهونو څخه پاکي او د مسکینانو لپاره خوراک دی.

د فطر د صدقې اندازه:

- نیمه صاع غنم: چې له یوې کیلو او اته سوه ګرامو سره برابره ده.
- همدا راز د پورتني مقدار قیمت په افغانیو هم ورکول کېدای شي.

د فطر د صدقې شرطونه:

صدقه ورکوونکی باید، مسلمان، آزاد او غني (د نصاب مالک) وي.

پلار به له ځان او نورو نفقه خورو، لکه: ښځې او اولادونو څخه صدقه ورکوي.

فعالیتونه

۱. د خپلې کورنۍ د غړو د سرسايې اندازه معلومه کړئ. په دې هکله خبرې وکړئ.

۲. ستاسې د کورنۍ مشر د فطر صدقه چا ته ورکوي؟ بیان يې کړئ.

۳. د فطر صدقه په کوم وخت کې ورکول کیږي؟ بحث پرې وکړئ.

پوښتنې

۱. د فطر صدقه کله واجبیږي؟

۲. د فطر صدقې په هکله پیغمبر ﷺ څه فرمايلي دي ؟

۳. د فطر د صدقې مقدار ووايئ.

۴. د فطر صدقه پر چا واجبیږي؟

۵. آیا له کوچنیانو څخه د فطر صدقه ورکول کیږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

زکات

زکات د اسلام مهم رکن دی چې د هجرت په دویم کال فرض شوی دی.

زکات په لغت کې پاکوالي او زیادت ته وایي او په اصطلاح کې هغه ټاکلې اندازه مال دی چې د شریعت په ښوونه یې غنیان، اړو خلکو ته ورکوي.

الله تعالی مسلمانانو ته د زکات ورکولو حکم کوي: ﴿وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾

ژباړه: او زکات ورکړئ.

د زکات د فرضیت شرطونه:

په یوه مسلمان باندې هغه وخت زکات فرض کیږي چې لاندې شرطونه ولري:

۱. زکات ورکوونکی باید عاقل او بالغ وي.

۲. مال یې باید د نصاب کچې ته رسېدلی وي.

۳. مال به یې له بنسټیزو اړتیاوو، لکه: کور، سوارلۍ او کالیوڅخه اضافه وي.

۴. د چا پور به پرې نه وي.

۵. پر مال به یې یوکال تیر شوی وي، پرته له مېوو او غلو څخه چې په هغو کې د کال تیریدل شرط نه دي.

د زکات ورکولو ګټې:

- زکات ورکوونکی په زکات ورکولو سره خپل مال پاکوي او په پاتې مال کې يې الله تعالی برکت اچوي.
- زکات ورکول له فقر سره مبارزه او له اړو خلکو سره مرسته ده.
- زکات ورکوونکی د اړو خلکو دعا تر لاسه کوي.
- په زکات ورکولو سره د مسلمانانو په منځ کې مینه او محبت زیاتیږي.

فعالیتونه

۱. د زکات د ګټو په هکله بحث وکړئ .
۲. په زکات ورکولو سره د مسلمان مال پاکیږي. په دې هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړئ .
۳. د زکات او صدقې تر منځ شته توپیرونه بیان کړئ.

پوښتنې

۱. زکات په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.
۲. څه وخت په یوه مسلمان زکات ورکول فرض کیږي؟
۳. زکات ورکول څه ګټې لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ د غړو په مرسته د زکات د ګټو په هکله لنډه مقاله ولیکي.

د زکات نصاب

نصاب: د مال هغې ټاکلې اندازې ته وايي چې د شريعت له مخې زکات پکې فرض کيږي.

که يو شخص له يوه کال راهيسي د ۵۹۵ گرامو سپينو زرو مالک وي او له اړتياوو څخه يې دا مال زيات وي، نو دا شخص بايد له هرو څلويښتو گرامو څخه يو گرام سپين زر او يا يې قيمت (پيسې) زکات ورکړي.

هغه مالونه چې زکات ترې ورکول کيږي، په لاندې ډول دي:

۱. سپين او سره زر او اوسنۍ پيسې.

۲. معدنونه،

۳. د تجارت توکي،

۴. مېوې او غلې،

۵. خاروي.

د سپینو او سرو زرو نصاب:

الف: **سپین زر**: کله چې سپین زر دوه سوه درهمو او یا (۵۹۵) گرامو ته ورسیږي، ورسره د تېر لوست شرطونه پوره کړي، زکات پکې فرض کیږي.

ب: **سره زر**: د سرو زرو نصاب (۲۰) مثقاله دی چې یو مثقال (۴،۲۵) گرامه وزن لري، نو (۲۰) مثقاله سره زر (۸۵) گرامه کیږي.

که څوک د (۸۵) گرامو په اندازه سره زر ولري، کال پرې تیر شوی وي او له بنسټیزو اړتیاوو یې زیات وي، نو باید له هرو څلویښتو گرامو څخه یو گرام سره زر او یا یې قیمت زکات ورکړي.

یادونه: په اوسنیو پیسو کې هم د سپینو زرو د نصاب له مخې زکات

ورکول کیږي، نو که چېرې یو شخص د (۵۹۵) ګرامو د قیمت په اندازه پیسې ولري، په ده باندې زکات لازمیږي.

زکات باید څومره ورکړل شي؟

له سپینو زرو، سرو زرو او پیسو څخه دوه نیم سلنه (له هرو څلوېښتو واحدونو یو واحد) زکات ورکول کیږي.

فعالیتونه

۱. زده کوونکې دې دوې ډلې شي، په ترتیب سره دې یوه ډله د لوست په هکله یو سوال مطرح کړي او بله ډله دې ځواب ووایي.

۲. اوس مهال د (۵۹۵) ګرامه سپینو زرو قیمت څومره افغانۍ کیږي؟ په دې هکله له ښوونکي څخه مرسته وغواړئ.

پوښتنې

۱. نصاب څه ته وایي؟

۲. په کومو مالونو کې زکات فرض کیږي؟

۳. د سپینو زرو نصاب څومره دی؟

۴. د سرو زرو نصاب څومره دی؟

۵. له پیسو څخه څنګه زکات ورکول کیږي؟

لاندنیو پوښتنو ته په ځواب ورکولو سره یوه مقاله ولیکئ چې تر اتو کرښو کمه نه وي:

۱- زکات ولې یوازې پر غنیانو فرض دی؟

۲- زکات ولې یوازې اړو خلکو ته ورکول کیږي؟

۳- زکات په ټولنه کې څنګه د خواخوږۍ او یووالي احساس رامنځته کوي؟

د غلو، دانو او مېوو زکات

د ځمکې په حاصلاتو او مېوو کې د زکات ورکولو لپاره نصاب او د کال تیریدل شرط نه دي، کله چې فصل را ټول شي، که زیات او یا کم وي، باید زکات ترینه ورکړل شي.

ځمکه د حاصلاتو له مخې په دوه ډوله ده:

لومړی ډول:

هغه ځمکې چې د ارهټ یا ماشین په واسطه اوبه کیږي، له حاصلاتو څخه يې شلمه برخه زکات ورکول کیږي. د بیلګې په ډول له شلو منو غنمو څخه يې یو من غنم زکات ورکول کیږي.

دويم ډول:

هغه ځمکې چې په باران او یا روانو اوبو، لکه: ویالې او کاریز څخه خړوبیږي، له حاصلاتو څخه یې لسمه برخه زکات ورکول کیږي، یعنې له لس منه غنمو څخه یې یو من زکات ورکول کیږي.

نورو نفقه خورو، لکه: ښځې او اولادونو څخه صدقه ورکوي.

فعالیتونه

۱. د خپلې سیمې ځمکې ته په کتلو سره دا جوته کړئ چې له حاصلاتو څخه یې لسمه او که شلمه برخه زکات ورکول کیږي؟

۲. که چیرې د ځمکې حاصلات ۱۰۰ منه غنم وي، باید څومره زکات یې ورکړل شي؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. آیا په غلو دانو او میوو کې زکات شته؟

۲. آیا له غلو دانو او میوو څخه د زکات ورکولو لپاره نصاب او د کال تیریدل شرط دي؟

۳. له کومو میوو او حاصلاتو څخه لسمه برخه زکات ورکول کیږي؟

۴. له کومو حاصلاتو او میوو څخه شلمه برخه زکات ورکول کیږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

څلور ویشتم لوست

د څارویو زکات

په اوښانو، غواګانو او پسونو کې هغه وخت زکات فرض کیږي چې نصاب یې پوره کړی وي، یو کال پرې تیر شوی وي او څریدونکي وي.

۱. د اوښانو نصاب:

په پنځه څرنده اوښانو کې زکات فرض کیږی، د پورته شرطونو په رعایتولو سره باید له هغو څخه یو پسه او یا یې قیمت زکات ورکړل شي.

۲. د غواګانو او میښو نصاب:

په دېرشو (۳۰) څریدونکو غواګانو او میښو کې یو کلن خوسی او یا یې قیمت زکات ورکول کیږي.

۳. د پسونو او وزو نصاب:

په څلوېښتو (۴۰) څرنده پسونو او وزو کې یو پسه او یا یې قیمت زکات ورکول کېږي.

که چېرې څاروي له یاد شمېر څخه کم وي، زکات پکې نه فرض کېږي.

فعالیتونه

۱. د هغو څارویو په هکله بحث وکړئ چې په کورونو کې ساتل کېږي. آیا له هغو څارویو څخه زکات ورکول کېږي؟

۲. آیا د پسونو او مېږو په رمه کې چې شمېر یې زیات وي زکات فرض دی؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. په څارویو کې کله زکات فرض کېږي؟

۲. د اوښانو نصاب څومره دی؟

۳. د غواګانو او مېښو نصاب ووایئ.

۴. د پسونو او وزو نصاب څومره دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

د زکات مستحقین

شریعت اته ډوله خلک د زکات مستحق بللي دي، یعنې دوی ته باید زکات ورکړل شي چې لاندې یې یادونه کېږي:

(فقیران، مسکینان، عاملین، مؤلفة القلوب، غلامان او وینځې، پوروړي، مسافر او د الله ﷻ په لار کې وتلي خلک).

۱. **فقیران**: فقیران هغه اړ او محتاج خلک دي چې خپله سرمایه یې د دوی اړتیا نه پوره کوي، باید دوی ته زکات ورکړل شي.

۲. **مسکینان**: مسکینان هغه اړ او محتاج خلک دي چې هېڅ مال نه لري. د نورو خلکو مرستې ته زیاته اړتیا لري.

۳. **عاملین**: هغو خلکو ته وایې چې د حکومت له خوا د زکات راټولولو دنده پر غاړه لري، که چېرې معاش ونه لري، نو دوی ته هم له زکات څخه یوه اندازه مال ورکول کېږي.

۴. **مؤلفة القلوب**: دوی تازه مسلمان شوي خلک دي چې مسلمانان د دوی تایید ته اړتیا لري، نو اسلام ته د هڅونې په موخه له زکات څخه یوه برخه دوی ته ورکول کېږي.

۵. **غلامان او وینځې**: د غلامانو او وینځو د آزادۍ لپاره باید زکات ورکړل شي.

۶. **پورورړي**: هغه خلک چې پورورړي دي، دوی د زکات اخیستلو مستحق دي.

۷. **ابن السبیل**: ابن السبیل هغه مسافر ته ویل کیږي چې د سفر پر مهال یې خپل مال ته لاس رسی نه وي او مرستې ته اړتیا لري.

۸. **فی سبیل الله**: یعنې د الله ﷻ په لار کې وتلو خلکو ته د زکات ورکول، لکه: مجاهدین او یا د دیني علومو زده کوونکي.

فعالیتونه

۱. د زکات د مستحقو خلکو په هکله په خپلو منځو کې بحث وکړئ.

۲. یو زده کوونکی دې د مستحق نوم واخلي او بل دې له یاده هغه تعریف کړي.

پوښتنې

۱. زکات کومو خلکو ته ورکول کیږي؟

۲. فقیر او مسکین چا ته ویل کیږي؟

۳. عامل ته زکات ورکول څه وخت جواز لري؟

۴. آیا مسافر او بندي ته زکات ورکول کیږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

حج

حج په لغت کې قصد ته وايي او په اصطلاح کې د حج په مياشتو کې د الله ﷻ کور (کعبې) ته د ځانګړو عبادتونو په مقصد د مسلمان ورتګ ته حج ويل کيږي.

حج د اسلام پنځم رکن دی. د هجرت په نهم کال فرض شوی دی. هر توان لرونکی مسلمان بايد په ټول عمر کې يو ځل حج ادا کړي.

حج زيات اجر او ثواب لري.

رسول الله ﷺ د حج په هکله فرمايي: که چېرې مسلمان د حج پر مهال له ګناهونو او شخړو څخه ځان وساتي، له حج وروسته د ده ټول ګناهونه بښل کيږي، لکه چې نوی مور زيږولی وي.

هر کال د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مسلمانان مکې مکرمې ته د حج لپاره راځي، د ابراهيم خليل الله او اسماعيل ذبيح الله ياد تازه کوي، د الله ﷻ له کور څخه طواف او د صفا او مروا ترمنځ سعې کوي.

د حج لپاره مسلمانان د احرام نيت تړي، د ذي الحجې په اتمه

ورځ حاجیان مِنی ته ځي او په نهمه ورځ یې په عرفات کې لمونځونه او دعاګانې کوي، له الله جل جلاله څخه د ګناهونو بښنه غواړي، د لمر له پریوتلو وروسته مزدلفې ته راځي، هلته هم عبادت کوي او په لسمه ورځ چې د لوی اختر ورځ ده، حاجیان بېرته د بیت الله په لوري ګرځي، په مِنی کې په وړو وړو کاڼو باندې عقبه جمره ولي، ورپسې قرباني کوي او د سر ویښتان خریي او یا یې کموي، وروسته غسل کوي، جامې اغوندي او د بیت الله طواف کوي.

له طواف وروسته حاجیان بېرته مِنی ته ځي او په یوولسمه او دولسمه ورځ هم په مِنی کې جمرې ولي چې په دې سره یې حج بشپړېږي.

فعالیتونه

۱. د حج په هکله په خپلو منځوکې بحث وکړئ.

۲. حاجیان په لاندې ځایونوکې څه ترسره کوي، بحث پرې وکړئ:

- صفا او مروه. - مِنی او عرفات. - مزدلفه.

پوښتنې

۱. حج په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۲. حج کله فرض شو؟

۳. په کومه ورځ حاجیان عرفات ته ځي؟

۴. د حج په هکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم څه فرمایلي دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ د غړو په مرسته د حج په هکله لنډه مقاله ولیکي.

د حج مسایل

حج د ځانګړو شرطونو په درلودلو سره پر مسلمان فرض کېږي.

په حج کې ځینې فرض، ځینې واجب او ځینې سنت عملونه دي.

د حج د فرضیت شرطونه:

۱. **اسلام**: حج پر مسلمان فرض دی.

۲. **عقل**: حج پر عاقل مسلمان باندې فرض کېږي، په لیوني باندې حج فرض نه دی.

۳. **بلوغ**: حج پر بالغ مسلمان فرض دی، په صغیر باندې حج فرض نه دی.

۴. **حریت**: حج پر آزاد مسلمان باندې فرض کېږي، په غلام او وینځې باندې فرض نه دی.

۵. **استطاعت**: حج کوونکی باید مالي توان ولري، حج ته د تګ او بېرته راتګ او د همدې مودې لپاره د کور د مصرف لپاره پانګه ولري

او که ویې نه لري، نو حج ور باندې فرض نه دی.

۶. **د حج وخت**: شریعت د حج د ادا کولو لپاره ځانګړی وخت ټاکلی دی چې د هجري قمري کال د دولسمې میاشتې (ذی الحجې) له اتمې ورځې پیل او په دولسمه ورځ یې پای ته رسیږي.

له یادې مودې پرته حج نه کیږي، خو په نورو وختونو کې مسلمانان مکې مکرمې ته د عمرې د ادا کولو لپاره ځي.

د حج فرضونه:

۱. **احرام تړل**: د حج لپاره نیت کولو ته احرام ویل کیږي چې له هغه وروسته ځینې چارې پر حج کوونکي حرامیږي، لکه: د ګنډلو جامو اغوستل، ښکار کول، د ویښتانو او نوکانو غوڅول.

۲. **په عرفات دریدل**: حاجیان د ذي الحجې میاشتې په نهمه ورځ د عرفات میدان ته ځي، هلته دعاوې او لمونځونه کوي او له لمر پریوتو وروسته بېرته را ګرځي. په عرفات دریدل فرض دي.

۳. **د زیارت طواف**: د عقبې جمرې له ویشتلو وروسته د اختر په لومړۍ ورځ حاجیان خاروي ذبحه کوي او له احرام څخه فارغیږي. له دې څخه وروسته د زیارت طواف کوي چې دې طواف ته فرضي طواف هم ویل کیږي.

فعالیتونه

۱. په یادو د حج د فرضیت شرطونه ووایئ.

۲. د حج فرضونه په نوبت سره نورو ته واوروئ.

۳. آیا غیر بالغ مسلمان حج کولای شي ؟ په دې هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. د حج شرطونه ووایئ.

۲. استطاعت څه ته ویل کېږي؟

۳. پر عرفات درېدل په کومه ورځ ترسره کېږي؟

۴. احرام څه ته وایي؟

۵. په حج کې څو فرضه دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنۍ پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب کړي.

حیاء

حیاء هغه ښه خوی دی چې انسان نېکو کارونو ته هڅوي او له بدو کارونو څخه یې ژغوري.
حیاء لرونکی شخص له الله تعالی او خلکو څخه شرمېږي. له بدو چارو ځان ساتي او نېکې چارې تر سره کوي.
رسول الله ﷺ د حیاء په هکله داسې فرمایلي دي:
«الإِيْمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيْمَانِ».
ژباړه: ایمان څه د پاسه (۷۰) څانګې لري او حیاء د ایمان یوه څانګه ده.
حضرت محمد ﷺ مسلمانانو ته د حیاء لرلو سپارښتنه کړې ده.
یوه ورځ یوه صحابي خپل ورور ته د ډېرې حیاء لرلو له کبله نصحیت کاوه، پدې وخت کې حضرت محمد ﷺ تیریده او د هغه نصحیت ته یې پام شو، پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: پرېږ یې ږده! له حیاء سره تل خیر او نیمګرغي مل وي.
حیاء د ایمان نښه ده، مسلمان تل حیاء لرونکی وي او له بې حیاء چارو څخه ځان ساتي.
مسلمان تل له الله ﷻ څخه حیاء کوي، حکمونه یې پر ځای کوي، خپله ژبه له فحش او سپکو ویلو او کنځلو څخه پاکه ساتي.
موږ باید تل حیا ولرو، ځکه بې حیایي انسان ناوړو کارونو ته هڅوي.
یادونه: د زده کړې پر مهال له ښوونکي څخه له پوښتنې او ځواب ورکولو ډېره کول حیاء نه ګڼل کیږي، باید زده کوونکي د آدابو په رعایتولو سره د لوست په بهیرکې فعال ګډون ولري.
همدارنګه له خلکو سره له خبرو ډېره کول او ځان ګوښه کول هم حیا نه ګڼل کیږي.

په ژوند کې د حیاء کولو څو بیلګې:

۱. مسلمان داسې جامې اغوندي چې ټول بدن یې پرې پټ شي، له نازکو او لنډو جامو څخه ډډه کوي.

۲. مسلمان سپکې او فحش خبرې نه کوي.

۳. مسلمان چاته کنځلې نه کوي.

۴. مسلمان څوک په بد نوم نه یادوي.

۵. مسلمان د الله تعالی او د خلکو پر وړاندې له ناروا کار څخه د حیاء له کبله ډډه کوي.

فعالیتونه

۱. په ژوند کې د حیا اهمیت او ګټو په هکله په نوبت سره خبرې وکړئ.

۲. آیا په زده کړې کې له پوښتنې او ځواب ورکولو څخه ډډه کول حیا بلل کیږي؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

۳. په جامو اغوستلو کې څرنګه حیاء په پام کې نیول په کار دي؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. حیاء څه ته ویل کیږي ؟

۲. رسول الله ﷺ د حیاء په هکله څه فرمایلي دي؟

۳. آیا په زده کړه کې له پوښتنو او ځواب ورکولو څخه ډډه کول حیاء ګڼل کیږي؟

۴. مسلمان له کومو خبرو څخه ځان ساتي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ غړو په مرسته د حیاء په هکله لنډه مقاله ولیکي.

تواضع

د ژوند په ټولو چارو کې حق منل او له خلکو سره په نرمۍ او درناوي چلند کولو ته تواضع ویل کیږي.

د اسلام دین موږ تواضع ته را بللي یو، رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«مَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ»

ژباړه: هېڅوک د الله تعالی لپاره په درناوي او نرمۍ سره چلند نه غوره کوي، مګر الله تعالی یې اوچتوي.

په بل حدیث کې رسول الله ﷺ داسې فرمایلي دي: الله جل جلاله ما ته حکم کړی چې له خلکو سره په تواضع او احترام چلند کوئ، تر څو خلک یو پر بل ځان غوره ونه ګڼي او یو پر بل ظلم او تیری ونه کړي.

موږ باید له خلکو سره په خوږه ژبه چلند وکړو، په هر وخت کې حق ته غاړه کیږدو او هیڅ وخت له حق نه سرغړونه ونه کړو.

د ښوونکو، ټولګیوالو او ګاونډیانو احترام وکړو، د مشرانو نصیحت واورو او عمل پرې وکړو.

د تواضع ضد کبر او لویي ده، کبر لویه ګناه ده.

حضرت محمد ﷺ کبر داسې بیان کړی: کبر د حق نه منل او خلکو ته سپکاوی کول دي.

د ښکلو او پاکو جامو اغوستل کبر نه ګڼل کېږي، بلکې اسلام موږ ته د پاکۍ او نظافت امر کوي.

د تواضع یوه نښه دا ده چې مسلمان په سلام اچولو کې لومړیتوب وکړي، بل ته د سلام اچولو منتظر پاتې نشي.

فعالیتونه

۱. د ښوونکي په مرسته د تواضع څو بېلګې بیان کړئ.

۲. له مور او پلار سره څنګه رویه کول په کار دي؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. تواضع څه ته وایي؟ معنا یې کړئ.

۲. د تواضع په هکله پیغمبر ﷺ څه فرمایلي دي؟

۳. د تواضع ضد څه شی دی؟

۴. کبر او لویي څه ته وایي؟

۵. آیا ښکلې او پاکې جامې اغوستل کبر ګڼل کېږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست حدیثونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

صله رحمي

د خپلولۍ پالنه، خپلوانو سره ښیګڼه، هغوی ته د خپل توان په اندازه ګټه او خیر رسول، په ستونزو او غم کې ورسره مرسته کولو ته صله رحمي وايي.

د اسلام دین موږ ته په صله رحمۍ امر کوي، له خپلوانو سره د خپلوۍ پالنه پر هر مسلمان واجب ده او قطع کول يې لويه ګناه ده.

حضرت محمد ﷺ د صله رحمۍ په هکله داسې فرمايلي دي: که څوک غواړي چې په روزۍ او عمر کې یې برکت پیدا شي، له خپلوانو سره دې صله رحمي وکړي.

موږ او پلار سره صله رحمي له هر خپلوان څخه لومړیتوب لري.

د صله رحمۍ څو بيلګې:

١. خپلوانو سره تګ او راتګ، له ژوند څخه يې ځان خبرول او د هغوی د خوشحالولو هڅه کول،

٢. د اړتيا په وخت کې هغوی سره هر ډول روا مرسته کول،

٣. خپلوانو ته نصحيت او سمه لاره ښوول،

۴. د خپلوانو په منځ کې د اتفاق او يووالي هڅه کول،

۵. هغوی سره ښه چلند کول او له بد چلند څخه ډډه کول،

٦. د خپلوانو احترام او عزت کول، په مینه او محبت سره هغوی ته ښه راغلاست ويل.

د صله رحمۍ له ګټو څخه:

۱. د صله رحمۍ په پاللو سره مسلمان د الله ﷻ رضا ترلاسه کوي.

۲. د صله رحمۍ له کبله د خپلوانو په منځ کې مینه او محبت زیاتیږي.

۳. صله رحمي په خلکو کې خوشحالي را منځ ته کوي.

۴. د صله رحمۍ په پاللو سره د مسلمانانو ستونزې او غمونه کمیږي.

۵. صله رحمي د دښمنۍ او کینې مخه نیسي.

فعالیتونه

۱. د صله رحمۍ په هکله په خپلو منځو کې مباحثه وکړئ.

۲. د خپلوانو سره صله رحمي څنګه کېدای شي؟ په دې هکله د ښوونکي معلومات له ځان سره شریک کړئ.

پوښتنې

۱. صله رحمي څه ته وایي؟

۲. حضرت محمد ﷺ د صله رحمۍ په هکله څه فرمایلي دي؟

۳. د صله رحمۍ څو بیلګې ووایئ.

۴. د صله رحمۍ ګټې ووایئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست حدیث شریف په خپلو کتابچو کې ولیکي.

رښتيا ويل

رښتيا ويل د مسلمان ښه ده. الله تعالی مونږ ته د رښتيا ويلو لار ښوونه کوي او فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾
(التوبة ۱۱۹ أيت)

ژباړه: ای مؤمنانو! له الله نه وويرېږئ او له رښتينو خلکو سره ملګري شئ.

رسول الله ﷺ فرمايي: تل رښتيا ووايئ، رښتيا ويل مسلمان له هلاکت څخه ژغوري . متفق عليه

مونږ بايد په خپلو ويناوو او عملونو کې رښتيني واوسو.

کله چې خبرې کوو، تل بايد رښتيا ووايو، له چا سره چې وعده کوو بايد سرته يې ورسوو.

له خلکو سره زمونږ اړيکې بايد صادقانه وي، مونږ مور او پلار ته تل رښتيا وايو، په ټولګي کې خپلو ټولګيوالو سره په رښتيا چلند کوو.

د رښتيا ويلو ګټې:

۱. په رښتيا ويلو سره الله ﷻ رضا کيږي.

۲. رښتيا ويل مسلمان نيکو کارونو ته هڅوي، له بدو کارونو نه يې ژغوري.

۳. په رښتيني انسان باندې خلک باور کوي.

۴. په رښتيا ويلو سره د انسان عزت زياتيږي .

۵. رښتيا ويل د نجات او خلاصون وسيله ده.

فعالیتونه

۱. د رښتیا ویلو په هکله په خپلو منځو کې بحث وکړئ.

۲. دروغ ویل څه زیانونه لري ؟ بحث پرې وکړئ.

پوښتنې

۱. الله تعالی مور ته د رښتیا ویلو په هکله څه لارښوونه کوي ؟

۲. رسول الله ﷺ د رښتیا ویلو په هکله څه فرمایلي دي؟

۳. مور باید په وینا او عمل کې څنګه واوسو؟

۴. رښتیا ویل څه ګټه لري؟ بیان یې کړئ .

ب: لاندې تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

۱. مور باید په خپلو ویناوو او عملونو کې .... واوسو.

۲. رښتیا ویلو سره د انسان ...... زیاتیږي .

۳. - .... ویل د مسلمان نښه ده.

۴. په رښتیا ویلو سره الله جل جلاله ...... کیږي .

کورنی دنده

زده کوونکي دې د مور او پلار د حقونو په هکله لنډه مقاله ولیکي.

د مور او پلار اطاعت

د مور او پلار اطاعت پر هر مسلمان فرض دی.

موږ باید په روا کارونو کې د مور او پلار خبره ومنو.

د الله ﷻ رضا د مور او پلار په خوښۍ کې ده.

الله تعالی موږ ته له مور او پلار سره د ښیګڼې امر کړی دی: ﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ د الاسراء سورت ۲۳ أیت.

ژباړه: او ستا رب فیصله کړې چې یوازې د یو الله ﷻ عبادت وکړئ او له مور او پلار سره احسان وکړئ.

له مور او پلار سره ښیګڼه د هغوی پیروي کول دي.

موږ له مور او پلار سره په خوږه او نرمه ژبه خبرې کوو، غوښتنو ته یې په درناوي ځواب وایو، د ژوند په چارو کې ور سره مرسته کوو.

تل د مور او پلار احترام کوو.

موږ مور او پلار ته د خیر دعا کوو.

حکایت:

یوه ورځ یو صحابي حضرت محمد ﷺ ته له خپل پلار سره راغی، پیغمبر ﷺ ترې پوښتنه وکړه: دا سپین ږیری څوک دی؟ هغه وویل: زما پلار دی. حضرت محمد ﷺ ورته وفرمایل: له هغه نه مخکې مه ځه، مخکې ترې مه کښېنه، نوم ورته مه اخله او داسې کار مه کوه چې خلک هغه ته کنځلې وکړي. رواه الطبرانی فی الاوسط

فعالیتونه

۱. د مور او پلار د اطاعت په هکله په خپلو منځو کې بحث وکړئ .

۲. د مور او پلار په وړاندې کوم آداب په پام کې نیول په کار دي؟ پدې هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړئ.

۳. د مور او پلار په وړاندې (اف) کلمه ویل روا نه دي. بحث پرې وکړئ.

پوښتنې

لاندې تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

۱. د مور او پلار اطاعت پر هر مسلمان ..... دی.

۲. موږ باید په روا کارونو کې د مور او پلار..... وکړو .

۳. د الله ﷻ رضا د مور او پلار په ...... کې ده .

لاندې پوښتنې ځواب کړئ :

۱. الله ﷻ موږ ته د مور او پلار په هکله څه لارښوونه کړې ده ؟

۲. له مور او پلار سره ښیګڼه ښنګه کېدای شي؟

۳. رسول الله ﷺ د پلار د حقونو په هکله زوی ته څه لارښوونه کړې ده؟

۴. آیا تاسې مور او پلار ته د خیر دعا کوئ ؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د مور او پلار د حقونو په هکله لنډه مقاله ولیکي.

اسراف

له اړتیا پرته، بې ځایه د روا شیانو اضافه استعمال ته اسراف وېل کېږي.

اسراف په اسلام کې حرام او ګناه ده.

الله تعالی موږ له اسراف څخه منع کړي یو: ﴿...وَلا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ الاعراف سورت: ۳۱ أیت.

ژباړه: او تاسې اسراف مه کوئ، پرته له شکه الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

رسول الله ﷺ فرمايي: ((كُلُوا وَاشْرَبُوا وَالْبَسُوا وَتَصَدَّقُوا، فِي غَيْرِ إِسْرَافٍ وَلاَ مَخِيلَةٍ)). رواه البخاري.

ژباړه: خوراک او څښاک کوئ، جامې اغوندئ او صدقه ورکوئ، خو اسراف او کبر مه کوئ.

پوه انسان، تل له اسراف څخه ډډه کوي.

موږ باید د ژوند په ټولو چارو کې له اسراف نه ځان وساتو.

د اسراف څو مثالونه:

- له اړتیا پرته د اوبو زیات استعمال، آن تر دې چې په اوداسه کې هم اسراف بلل کېږي.
- له اندازې زیات خواړه تیارول او خوړل یې اسراف دی.
- له اړتیا پرته ډېرې جامې او لباس اخیستل، اسراف بلل کېږي.

- له اړتیا پرته د برېښنا کارول اسراف بلل کېږي.

د اسراف له زیانونو څخه:

- اسراف شیطاني عمل دی، کول یې گناه ده.
- اسراف بې ځایه د مال ضایع کول دي.
- اسراف انسان په گناهونو کې ښکیل کوي.
- اسراف مسلمان له عبادت او اطاعت څخه غافل کوي.

فعالیتونه

۱. د ښوونکي په مرسته په چاپېریال کې د اسراف څو بېلگې ووایئ.
۲. آیا د اسراف او سخاوت تر منځ توپیر شته؟ بحث پرې وکړئ.
۳. لاندې چارې په گوته کړئ چې روا او که ناروا دي:
(بخل، مېلمه پالنه، سخاوت، پاسلنه)

پوښتنې

۱. اسراف څه ته ویل کېږي؟
۲. اسراف ولې گناه ده ؟
۳. الله تعالی موږ ته د اسراف په هکله څه لارښوونه کړې ده؟
۴. د اسراف څو مثالونه ووایئ.
۵. د اسراف څو زیانونه ووایئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له لوست څخه په گټه اخیستنې سره د اسراف په هکله یوه مقاله ولیکي.

حجاب

الله تعالی مسلمانو ښځو ته د حجاب رعایتولو امر کوي.

د ښځې بدن او ښایست پټولو ته حجاب وايي.

مسلمانه ښځه باید له نامحرمو څخه پرده وکړي.

حجاب د مسلمانې ښځې د عزت ساتنه کوي.

د مسلمانې ښځې لباس باید لاندې ځانګړتیاوې ولري:

۱. جامې باید نرۍ نه وي چې بدن ترې ښکاره شي.

۲. جامې باید پراخه وي، تنګې نه وي چې د بدن غړي پکې معلوم شي.

۳. جامې یې باید د نارینه وو په څېر نه وي.

۴. جامې باید د کافرانو له جامو سره مشابهت ونه لري.

۵. ټول بدن باید پکې پټ شي.

د حجاب ګټې:

- د حجاب په رعایتولو د الله تعالی امر پر ځای کېږي.
- حجاب پر ښځه د تیري مخه نیسي.
- حجاب د پاکۍ او اصیلې ښځې نښه ده.
- خلک د حجاب لرونکې ښځې احترام کوي.

فعالیتونه

۱. د حجاب په هکله په خپلو منځو کې بحث وکړئ.

۲. حجاب د پاکۍ او اصیلې ښځې نښه ده. په دې هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړئ.

پوښتنې

۱. الله تعالی مسلمانو ښځو ته د څه امر کړی دی؟

۲. حجاب څه ته وايي؟

۳. د مسلمانې ښځې لباس باید څه ځانګړتیاوې ولري؟

۴. حجاب کول ښځې ته څه ګټه لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د یاد لوست ګټې په خپلو کتابچو کې ولیکي او په راتلوونکي ورځ کې دې په ټولګي کې ولولي.

د صدقې فضایل

د الله تعالی مرسته له هغه بنده سره مل ده چې له نورو خلکو سره مرسته کوي.

مسلمان له اړو خلکو سره مرسته خپل مسؤولیت ګڼي.

له خپل مال څخه مسکینانو او فقیرانو ته صدقه ورکوي.

مسلمان د توان او قدرت په اندازه صدقه ورکوي.

صدقه ورکول مسلمان له دوزخ څخه ژغوري.

رسول الله ﷺ داسې فرمايي: «اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ» . رواه البخاري.

ژباړه: په صدقې ورکولو سره ځان له دوزخ څخه وژغورئ، که څه هم د خرما یوه ټوټه وي.

لومړی باید غریبو او اړو خپلوانو ته صدقه ورکړل شي، په دې کې اجر او ثواب زیات دی، رسول الله ﷺ فرمايي: «لَهُمَا أَجْرَانِ أَجْرُ الْقَرَابَةِ وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ». رواه البخاري.

ژباړه: د دوی لپاره دوه اجره دي، یو یې د خپلوۍ د پالنې او بل یې د صدقې ورکولو.

د صدقې ورکولو ګټې:

- په صدقې ورکولو الله جل جلاله له مسلمان څخه راضي کیږي.
- په صدقې ورکولو سره مسلمان له ډېرو ستونزو او مصیبتونو څخه نجات مومي.
- په صدقې ورکولو د مسلمانانو په منځ کې مینه او محبت زیاتیږي.
- الله تعالی د صدقې ورکوونکي په مال او عمر کې برکت اچوي.

فعالیت

۱. د خپلو مرستو څو بیلګې چې له غریبانو او خپلوانو سره مو کړې دي، په ټولګي کې بیان کړئ.

۲. صدقه او خیرات باید په پټه ورکړل شي. په دې هکله خبرې وکړئ.

پوښتنې

لاندې پوښتنې ځواب کړئ :

۱. د الله تعالی مرسته له چا سره مل وي؟

۲. رسول الله صلی الله علیه وسلم د صدقې په هکله مونږ ته څه لارښوونه کړې ده؟

۳. لومړی باید چاته صدقه او خیرات ورکړل شي؟

۴. صدقه ورکول مسلمان ته څه ګټه رسوي؟

ب: لاندې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. په صدقې ورکولو سره ځان له......... وژغورئ.

۲. لومړی باید غریبو او اړو .... ته صدقه ورکړل شي .

۳. په صدقې ورکولو سره له مسلمان څخه الله جل جلاله .... کیږي.

۴. الله تعالی د صدقې ورکوونکي په مال او عمر کې......... اچوي.

زده کوونکي دې لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي.